امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



هفته نامه

# مدیریت حوادث

۲۵ الی ۳۰ دلو ۱۴۰۴

## شماره یکصدو چهل و سوم

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د پېښو مدیریت د ستراتیژیک پلان د معرفت، شننې، تجزیې او عملي تطبیق په پروګرام کې ګډون او وینا وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، په داسې حال کې چې د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوي محمد علم عالمیار، د اداري مرکزي رئیسانو او کارپوهانو، په آسیا کې د نړۍ ټولنیزو خدمتونو د موسسې(CWSA) رئیس او مسوولینو او د رسنیو استازو ګډون درلود، د پېښو مدیریت د ستراتیژیک پلان (۲۰۲۵-۲۰۲۹) د معرفت، شننې، تجزیې او عملي تطبیق په پروګرام کې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۹ نېټه ګډون او وینا وکړه...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د آغاخان بنسټ له اجرائیوي رئیس او د آغا خان پراختیایي شبکې له همغږي کوونکي مسؤل سره وکتل او خبرې اترې یې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د آغاخان پراختیایي شبکې له همغږي کوونکي مسؤل ډاکټر نجم الدین نجم او د آغا خان ...

ادامه در صفحه ۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د انتر ساس نړیوالي مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د انټرساس نړیوالي مؤسیسې له رئیس ماهر الشون، د سیمیزو اړیکو مسؤل محمد اسمعیل حمید، د طبي برخي مسؤل دوکتور نصرالدین...

ادامه در صفحه ۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د (DA) مؤسسې له ارشد سلاکار سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د (DA) مؤسسې له ارشد سلاکار ښاغلي کمال اوکدا سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۸ نېټه وکتل...

ادامه در صفحه ۴

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د پېښو مدیریت د ستراتیژیک پلان د معرفت، شننې، تجزیې او عملي تطبیق په پروګرام کې ګډون او وینا وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، په داسې حال کې چې د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوي محمد علم عالمیار، د ادارې مرکزي رئیسانو او کارپوهانو، په آسیا کې د نړۍ ټولنیزو خدمتونو د موسسې(CWSA) رئیس او مسوولینو او د رسنیو استازو ګډون درلود، د پېښو مدیریت د ستراتیژیک پلان (۲۰۲۵–۲۰۲۹) د معرفت، شننې، تجزیې او عملي تطبیق په پروګرام کې د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۹ نېټه ګډون او وینا وکړه.

په دې پروګرام کې، محترم ترابی صاحب په مدیریت کې د اخلاص او مسلکي پوهې پر اهمیت ټینګار وکړ او څرګنده یې کړه چې یوازې ژمنتیا بسنه نه کوي، بلکې د اړوندو چارو او اسنادو سره بشپړه آشنایي درلودل هم اړینه ده. هغه ټولو مسؤلینو ته لارښوونه وکړه چې ستراتیژیک پلان په دقت سره مطالعه کړي او د هرې مادې تطبیق په خپلو اړوندو برخو کې تعقیب کړي.

همدارنګه، د ادارې لوی رئیس وویل چې دا پلان د اړوندو بنسټونو سره په مشوره چمتو شوی او په دې بهیر کې د CWSA مؤسسې همکاري هم مهمه ونډه درلوده. هغه زیاته کړه چې د ادارې د کاري لارې د روښانتیا لپاره ټول تقنیني اسناد بشپړ شوي او په ټولو کچو کې شتون لري.

په ورته وخت کې، د پلان او پالیسۍ رئیس، ملا محمد جاوید عباس، د دې سند چمتو کولو د بهیر او اهمیت په اړه خبرې وکړې او پلي کول یې مهم وباله.

همدارنګه، دCWSA رئیس، محمد شریف هاشمي وویل چې دا سند د جاپان د خلکو د بنسټ په مالي ملاتړ، د هېواد دننه د متخصصینو او پوهنتونونو د استادانو په نظریاتو جوړ شوی او په ډېر دقیق ډول چمتو شوی دی.

دا پروګرام د محترم حبیب‌الله فرهنګ، محترم مهدی حمیدی، او استاد محمد روکي عمري لخوا د ستراتیژیک پلان د لرلید، اهمیت، عملي تطبیق، محتوا او موخو په اړه د پرزینټېشنونو په وړاندې کولو سره پای ته ورسېد.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د افغانستان لپاره د آغاخان بنسټ له اجرائیوي رئیس او د آغا خان پراختیایي شبکې له همغږۍ کوونکي مسؤل سره وکتل او خبرې اترې یې وکړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د آغاخان پراختیايي شبکې له همغږي کوونکي مسؤل ډاکټر نجم الدین نجم او د آغا خان بنسټ له اجرائیوي رئیس، د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې له رئیس راحت الله بیک، د آغاخان بنسټ د پروګرامونو له سلاکار جي راوت او د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې د اړیکو او حقوقو له مسؤل عصمت الله عصمتي او همدارنګه د بېړنیو حالاتو له مسئول سید احمد سهیم سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۸ نېټه وکتل او د روان کال د پروګرامونو او فعالیتونو په اړه یې خبرې وکړې.

د غونډې په پیل کې، ترابي صاحب د هستوګنې لپاره د آغاخان سفیر او پلاوي ته ښه راغلاست وویل او د طبیعي پېښو د اغېزمن مدیریت په موخه یې د دولتي ادارو او همکارو مؤسسو ترمنځ پر لا زیاتې همغږۍ او انسجام ټینګار وکړ. هغه څرګنده کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره د کال په ټولو فصلونو کې د مدیریت، د خطرونو د کمولو او له زیانمنو شویو کسانو سره د مرستې لپاره منظم او له مخکې طرحه شوي پروګرامونه لري.

ترابي صاحب زیاته کړه، چې دې ادارې خپلې چارې د ولایتونو د زیان منې د کچې او د خلکو د بېړنیو اړتیاوو پر بنسټ لومړیتوب بندي کړې دي او د لومړیتوبونو یو ځانګړی لېست یې ترتیب کړی چې له همکارو بنسټونو سره هم شریکېږي، څو پروژې او پروګرامونه په ریښتني ډول او د سیمې د اړتیاوو له مخې پلي شي.

نوموړي د هېواد په کچه د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې د فعالیتونو پراختیا ته په اشارې سره، د بنسټیزو او بشري پروژو په پلي کولو کې د دې مؤسسې له رول څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې د بېړنیو مرستو ترڅنګ پر وقایوي پروژو زیات تمرکز کولای شي د خلکو لپاره لا دوامدارې او ګټورې پایلې ولري. د هغه په وینا، د استنادي دېوالونو جوړول، د اوبو مهارولو بندونه، د سیلاب لارو پاکول او د طبیعي خطرونو د کمولو نورې پروژې هغه اقدامات دي، چې په راتلونکي کې د ځاني او مالي زیانونو مخه نیولای شي.

ترابي صاحب همدارنګه ټینګار وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره له جغرافیایي، سمتي او مذهبي توپیر پرته د هېواد ټولو وګړو ته رسېدنه کوي او همکار بنسټونه هم هڅول کېږي څو خپلې پروژې د سیمو د زیان منې او د خلکو د واقعي اړتیاوو له مخې طرحه او پلي کړي.

ورپسې، د آغاخان بنسټ د پراختیایي شبکې همغږي کوونکي او د دې بنسټ اجرائیوي رئیس محترم داکتر نجم‌الدین نجم د نېږدې همکارۍ او همغږۍ له امله مننه وکړه او ویې ویل، چې دغه بنسټ تېر کال د دې ادارې په همکارۍ بېلابېل فعالیتونه ترسره کړي او سږ کال هم د ګډو همکاریو د پراخولو لپاره ژمن دی.

هغه د بنسټ د نوې پروژې په اړه چې د آسیایي پراختیا بانک له لوري تمویلېږي، معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې دغه پروژه درې اساسي برخې لري، د خلکو د معیشت پیاوړتیا او اقتصادي توانمندي، د پېښو مدیریت ښه کول او د خطرونو کمول، او په زیان منونکو سیمو کې د دوامدار اقتصادي ودې لپاره د زمینې برابرول.

د غونډې په پای کې، دواړو لورو د پېښو د مدیریت په برخه کې د هر اړخیزو همکاریو پر پیاوړتیا، د بېړنیو حالاتو د رسېدنې ټیمونو پر جوړولو او پیاوړتیا، او د بنسټیزو پروژو پر پلي کېدو چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له ټاکل شویو لومړیتوبونو سره سمون ولري ټینګار وکړ.همدارنګه، د آغاخان بنسټ د پراختیایي شبکې همغږي کوونکي او اجرائیوي رئیس محترم ډاکټر نجم الدین نجم ته د دوی د ارزښتناکو خدمتونو او همکاریو د درناوي په موخه، د یادې ادارې د لوی رئیس له لوري یوه ډالۍ هم ورکړل شوه.

## له پېښو سره د مبارزې ملي اداري آمادګۍ لوی رئیس د انټر ساس نړیوالې مؤسسې له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د انټرساس نړیوالې مؤسیسې له رئیس ماهر الشون، د سیمیزو اړیکو مسؤل محمد اسمعیل حمید، د طبي برخي مسؤل دوکتور نصرالدین اموتوشو او د تخنیکي برخي مسؤل حذیفه هلال سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۸ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د همکاریو مننه یې ورڅخه وکړه او ویې ویل چې دا اداره هڅه کوي چې د هیواد په کچه د پېښو پر وړاندې چمتووالی لا پیاوړی کړو، موږ باور لرو چې د همکارو مؤسسو سره رښتینې او دوامداره همغږي کولی سي د خلکو ستونزې په اساسي ډول راکمې کړو.

همداراز محترم ترابي صاحب خپل د راتلونکي کال پلان له یادې مؤسسې د راغلي پلاوي سره شریک کړ او څرګنده یې کړه چې موږ پلان لرو چې د خطر د کمولو او وقایوي پروژو  برخه هم پیاوړې کړو، ترڅو د پېښو زیانونه تر ممکنه حده راکم سي، نو  په دې برخه کې د مؤسسو همکاري خورا مهمه ده.

د انټر ساس مؤسسې رئیس ماهر الشون هم د دې لیدنې هرکلی وکړ او ویې ویل: موږ چمتو یو چې د یادې ادارې د راتلونکي کال له پلان سره سم په مشوره خپلې پروژې پلې کړو. زموږ هڅه به دا وي چې په بیړنیو حالاتو کې چټک غبرګون ولرو او همداراز د بیا رغونې او معیشت ملاتړ اوږدمهاله پروګرامونه عملي کړو.

همدراز تخنیکي مسؤل حذیفه هلال د انټرساس مؤسیسي د تیرو پروژو او راتلونکي پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او وې وویل چې موږ به تل ددې اداري سره همکاري کوو.

د غونډې په ورستیو کې د ترابي صاحب لخوا یو تحفه چې له مخکي څخه ورته نظر کې نیول سوي وه، د انټرساس نړیوالې مؤسیسې رئیس ماهرالشون ته ورکړل سوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د (DA) مؤسسې له ارشد سلاکار سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د  (DA) مؤسسې له ارشد سلاکار ښاغلي کمال اوکدا سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۸ نېټه وکتل او د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا په اړه یې بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

ترابي صاحب د همکارو مؤسسو رول د همغږۍ په پیاوړتیا، د خلکو د پوهاوي کچې په لوړولو اومستحقینو ته د اغېزمنې رسېدنې په برخه کې مهم وباله او ټینګار یې وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره چمتو ده څو د اصولو   په چوکاټ کې له همکارو بنسټونو سره اغېزمنې او دوامدارې همکارۍ پراخې کړي. نوموړي د یادې مؤسسې له لوري اندونیزیا ته د دې اداري د کارکوونکو د استولو وړاندیز، د ظرفیت لوړونې په موخه مهم وباله او خپله لېوالتیا یې څرګنده کړه. همدارنګه یې د هېواد د خلکو د لومړیتوبونو او اړینو اړتیاوو لېست له هغوی سره شریک کړ څو د دوی په پروګرامونو کې شامل شي.

په همدې حال کې، د (DA) مؤسسې ارشد سلاکار د دې بنسټ د فعالیتونو او پروګرامونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، چې دغه اداره د ټولنیزو خبرو اترو د پیاوړتیا، د سیمه ییزې ټولنې د ګډون او د ظرفیت لوړونې په برخو کې فعالیت کوي او چمتو ده چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې، د انرژۍ او اوبو وزارت او د ملي چاپېریال ساتنې ادارې سره په همغږۍ، د یادو ادارو اړوندو کارکوونکو ته اندونیزیا ته د سفر زمینه برابره کړي، څو د پېښو مدیریت، د اوبو سرچینو مدیریت او اقلیمي بدلون په برخو کې تجربې ترلاسه کړي او له بېلابېلو اړوندو برخو څخه لیدنه وکړي.

په پای کې، دواړو لوریو د همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او ترابي صاحب هغه ډالۍ چې په پام کې یې نیولې وه، ښاغلي کمال ته ورکړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو خدماتي مؤسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغان ځوانانو خدماتي مؤسسې د پراختیا او عامه اړیکو رئیس، ډاکټر احمد سیر رحمانزی ساپي سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۶ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم ترابي صاحب د ژمي موسم او د کرنیزو حاصلاتو د کموالي په پام کې نیولو سره بشردوستانه مرستې مهمې وبللې او د پروژې د تطبیق په برخه کې یې له مؤسسې سره د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او په کارونو کې پر شفافیت او چټکتیا یې ټینګار وکړ.

په همدې حال کې محترم ساپي د ادارې د لوی رئیس له همکاریو څخه مننه وکړه، د پلي کېدونکې پروژې په اړه یې غونډې ته معلومات وړاندې کړل او د پروژې پر وخت پلي کولو ډاډ یې څرګند کړ.

په پای کې د دواړو لوریو ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې له سروې او ارزونې وروسته، د یونیسف سازمان له خوا د پکتیکا ولایت د جاني‌خېل ولسوالۍ ۸۱۲ کورنیو، د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ ۸۱۲ کورنیو او د ننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالۍ ۸۱۲ نورو کورنیو ته، چې تر یو کال کم عمره ماشوم لري، د مغوی د تغذیې په موخه، هرې کورنۍ ته به د درې پړاوونو لپاره هر نفر ته د ۶۰ ډالرو معادل افغاني ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د بادغیس ولایت له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د بادغیس ولایت له والي، محترم الحاج ملا محمد حنیف حمزه سره د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په پیل کې ترابي صاحب د یاد ولایت والي ته د ښه راغلاست ترڅنګ د بادغیس د خلکو د ستونزو او اړتیاوو په اړه په خپلو خبرو کې وویل، چې هر کال په یاد ولایت کې بېلابېلې طبیعي پېښې رامنځته کېږي نو اړینه ده ترڅو په یاد ولایت کې د لومړیتوبونو له مخې وقایوي پروژې پلي شي او دا اداره تل هڅه کوي چې هم له خپلې بودجې او د همکارو موسسو له لارې خلکو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي، هغه زیاته کړه چې دا اداره ژمنه ده چې په ټول هېواد کې مستحقو خلکو ته پر وخت رسېدنه وکړي او په ټولو ولایتونو کې د طبیعي پېښو د خطرونو کمولو لپاره له همکارو موسسو سره په ګډه فعالیتونه ترسره کوي.

د بادغیس والي محترم الحاج ملا محمد حنیف حمزه د یادې ناستې قدرداني وکړه او ویې ویل چې دا ولایت د جغرافیایي موقعیت له امله هر کال له بېلابېلو طبیعي ګواښونو سره مخ وي، نو وقایوي پروژې د خلکو حیاتي اړتیا ده. نوموړي ژمنه وکړه چې ولایتي اداره به د ځمکو د تثبیت، تخنیکي همغږۍ په برخه کې بشپړه همکاري وکړي،تر څو پروژې په شفاف او اغېزمن ډول عملي سي.

په پای کې دواړو لوریو د خلکو ستونزو او اړتیاوو ته د رسېدنې او د پېښو مدیریت په فعالیتونو کې د همکاریو او همغږۍ پر پیاوړتیا ټینګار وکړ.



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د خوست ولایت له والي سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د خوست ولایت له والي، محترم مولوي عبدالله مختار سره د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۹ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په پیل کې ترابي صاحب د خوست ولایت والي صاحب ته ښه راغلاست ووایه او وویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره اداره تل هڅه کوي چې وقایوي پروژې په ولایتونو کې پلي کړي تر څو په لږ مصرف د ډېر زیان مخه ونیول سي.

د خوست والي الحاج مولوي عبدالله مختار د یادې ناستې قدرداني وکړه او ویې ویل چې خوست د جغرافیایي موقعیت له امله هر کال له بېلابېلو طبیعي ګواښونو سره مخ وي، نو وقایوي پروژې د خلکو حیاتي اړتیا ده. نوموړي ژمنه وکړه چې ولایتي اداره به د ځمکو د تثبیت، تخنیکي همغږۍ په برخه کې بشپړه همکاري وکړي،تر څو پروژې په شفاف او اغېزمن ډول عملي سي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه




د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ته ۳۲ ټنه خرما د ملک سلمان خیریه بنسټ له لوري وسپارل شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ته د ملک سلمان د خیریه بنسټ استازي له خوا ۳۲ ټنه خرما د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه وسپارل شوه.

دغه بشردوستانه مرسته د یادې ادارې مسؤلینو د بنسټ له استازي څخه ترلاسه کړه.

د ادارې مسؤلینو د ملک سلمان د خیریه بنسټ له دې همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې دغه  خرما به د روژې په مبارکې میاشتې کې پر اړمنو کسانو باندې په سرعت او شفاف ډول ووېشل شي.

د یادونې وړ ده، چې د ملک سلمان خیریه بنسټ په وروستیو کلونو کې د بشردوستانه فعالیتونو په بېلابېلو برخو کې، په ځانګړې ډول له اړمنو او د پېښو له زیانمنو سره د مرستې په برخه کې، له افغانستان سره د پام وړ نوری همکارۍ  هم کړې دي.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۲۱۵ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۶ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای او یو روغتیایي کېټ ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۶۰۰ خانواده مستحق کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه خدمات اجتماعی جهانی در آسیا(CWSA)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی این مؤسسه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۶۰۰ خانواده مستحق در ولسوالی یکه‌ولنگ نمبر ۲ آن ولایت کمک نقدی توزیع کرد.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولان مبلغ ۲،۵۳۳ افغانی پرداخت گردید که در مجموع یک میلیون و پنجصد و نوزده هزار و هشتصد (۱،۵۱۹،۸۰۰) افغانی پول نقد برای خانواده‌های یادشده اختصاص یافته بود.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د شیګل ولسوالۍ په کلیو کې د طبیعي پېښو له امله د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۶ نېټه ۲۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم، دوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، یوه بسته ژمنۍ البسه او یوه تخته ځان پاک ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان کار پاک کاری سیلبر ها را در ترینکوت آغاز کرده است




بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان در ترینکوت مرکز آن ولایت، بتاریخ ۲۶ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کارهای جلوگیری از وقوع سیلاب را از طریق پاک‌کاری مسیر سیلبر ها در مناطق مختلف آغاز کرده که این روند به‌گونه دوامدار ادامه دارد.

بر بنیاد اقدامات انجام‌شده، تا کنون حدود ۳۰۰ تا ۵۰۰ منزل مسکونی و همچنان بین ۵۰۰ تا ۱۰۰۰ جریب زمین زراعتی از تهدید سیلاب‌ها مصوون شده است. مناطق یادشده با خطر جدی سیلاب مواجه بودند که در صورت عدم رسیدگی به‌موقع، خسارات گسترده‌ای به منازل مسکونی و محصولات زراعتی مردم وارد می‌شد.

همچنان در دو ساحه جداگانه، کارهای کندن‌کاری به هدف تنظیم مسیر آب و کاهش خطرات احتمالی سیلاب آغاز گردیده است.

قابل ذکر است آن ریاست تأکید می‌کنند که به تمامی ساحات در معرض تهدید سیلاب به‌موقع رسیدگی صورت می‌گیرد و در چارچوب امکانات موجود، تدابیر لازم برای حفاظت از منازل مسکونی و زمین‌های زراعتی مردم اتخاذ خواهد شد.

## د پکتیا ولایت په مرکز کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ایریا ماین پاکۍ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د یادې موسسې تخنیکي ټیمونو د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۸ نېټه د دې ولایت په مرکز کې د ناچاودو توکو د راټولولو او له منځه وړلو عملیات ترسره کړل.

په دې عملیاتو کې چې د ګردیز اړوند د سیدکرم او قلعه نیازیو په سیمو کې د موسسې د تخنیکي ټیمونو لخوا ترسره شول، یو فیر د راکټ مرمۍ، یو فیر د هاوان مرمۍ، ۱۶ عدد فیوزونه، دوه فیر د راکټ مرمۍ فورپلنت بوسټر او یو فیر ۸۲ ملي‌متري د توپ مرمۍ کشف او خنثی کړل شوې.




د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار کوي چې دا ډول عملیات به د خلکو د ژوند د خوندیتوب او د ناچاودو توکو له امله د رامنځته کېدونکو ګواښونو د کمولو په موخه دوام ولري، او د شکمنو توکو د راپور ورکولو په برخه کې د خلکو له همکارۍ مننه کوي.

## په کندز ولایت کې د ناچاوده توکو کشف او خنثی شول



د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ماین‌پاکۍ مؤسسې MCPA له ټیم سره د همغږۍ پر بنسټ د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۶ نېټه اعلان وکړ، چې د خان‌آباد ولسوالۍ او د دغه ولایت د مرکز په اړوندو سیمو کې د ناچاوده توکو یو د پام وړ اندازه کشف او په خوندي ډول خنثی او له منځه یووړل شول.

په دې عملیاتو کې ۲۰ د هاوان مرمۍ، ۱۵ د راکټ مرمۍ، ۷ د توپ مرمۍ، ۸ لاسي بمونه، یوه ۲۵ کیلوګرامه کار ایښودل شوې ماین او ۳ د پرسونل ضد ماینونه کشف او له منځه یووړل شول.

مسؤلین وایي یاد ناچاوده توکي د تېرې جګړې پاتې شوني وو او تل یې د ولسي وګړو، په ځانګړې توګه د ماشومانو، د ژوند او روغتیا لپاره جدي ګواښ باله کېدل.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۲،۷۰۰ خانواده مستحق کمک‌های نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه خدمات اجتماعی جهان در آسیا (CWSA)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی این مؤسسه، برای ۲،۷۰۰ خانواده مستحق در مربوطات مرکز آن ولایت و ولسوالی یکه‌ولنگ نمبر ۱، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۸ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولان به هر خانواده مبلغ ۲،۵۳۳ افغانی پرداخت گردید که در مجموع مبلغ شش میلیون و هشتصد و سی و نه هزار و یکصد(۶،۸۳۹،۱۰۰) افغانی برای خانواده‌های یادشده اختصاص یافته بود.

## ریاست آمادگی مبارزه حوادث ولایت جوزجان برای ۳۹۰ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی کمک‌های غذایی توزیع کرد

به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۹ شعبان المعظم سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۳۹۰ خانواده مستحق و آسیب‌دیده از خشکسالی در مربوطات ولسوالی‌های مختلف آن ولایت کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این روند، به هر خانواده با حضور مسئولین مربوطه یک بوری گندم ۵۰ کیلویی توزیع گردید.

## د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د یو استنادي دیوال د جوړولو چارې د نه میلیونه (۹،۰۰۰،۰۰۰ ) افغانیو په لګښت د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۹ نېټه ګټې اخیستنې ته وسپارلې سنګین کې د استنادي دېوال انکشافي پروژه د نهه میلیونه افغانیو په لګښت بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارلې

یاده پروژه، د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د محترم رئیس، د دې ولسوالۍ د محترم ولسوال، سیمه ییزو اوسېدونکو او نورو اړوندو مسؤلینو په شتون کې د ۲۶۹ متره اوږدوالي له ۵ څخه تر ۶ متره لوړوالي، په لاندینۍ برخه کې د ۴ او پاسنۍ برخه کې د ۱ متر سور په درلودلو سره ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د دې استنادي دیوال د جوړولو چارو کې د ۴۰ کسانو لپاره د کار کولو زمینه برابره شوې وه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان کار پاک‌کاری و حفر یک سیلبر در مرکز آن ولایت را تکمیل کرد



به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان کار پاک‌کاری و حفر یک سیلبر را در قریه موساگالی مربوط مرکز آن ولایت بتاریخ ۱ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق با موفقیت به پایان رسانید.

این پروژه با طول ۵۰۰ متر و عرض ۶ الی ۱۰ متر، با بودجه هفتاد و چهار هزار و هفتاد (۷۴،۰۷۰) افغانی از سوی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تطبیق و تکمیل گردید.

قابل یادآوری است که با تکمیل این پروژه، حدود ۲۰۰ باب خانه مسکونی و ۱۰۰۰ جریب زمین زراعتی از خطرات احتمالی سیلاب‌ها مصوون گردید.

## د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۲مستحقو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د مرکز د شلک او پیاروخیل کلیو او محمد آغه ولسوالۍ ۱۷۲ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱ بوری اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای، ۱ روغتیایي کېټ او یو اندازه د اوبو د تصفیې ټابلېټ ووېشل شول.

د مرستو ترلاسه کوونکو د خوښي څرګندولو ترڅنګ د یاد ریاست له همکارۍ او هڅو قدرداني وکړه.

## د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRAA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د دهراوود ولسوالۍ ۱۲۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱۰,۹۴۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال یو میلیون او درې سوه او دوولس زره او اته سوه افغانۍ (۱,۳۱۲,۸۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۶۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ASIO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د خلم ولسوالۍ ۲,۶۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۱ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱ بوري ۵۰ کیلویي اوړه، ۶.۲۶ کیلو دالنخود، ۴.۵۵ لیتره غوړي، نیم کیلو مالګه او ۱.۵ کیلو پلمپي ووېشل شول.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۲۱۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد

به هدایت رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان در ولسوالی‌های درزاب و قوش‌تپه آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق برای ۲۱۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع نمود.
در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی گندم توزیع گردید.
قابل یادآوری است که خانواده‌های مستفیدشده، ضمن ابراز قدردانی از مسئولان مربوطه به‌خاطر دریافت کمک‌ها، خواهان تداوم چنین مساعدت‌ها شدند.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۲ اجباري راستنې شویو کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د مهاجرت نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۸ کال د شعبان المعظم ۲۶ نېټه د ۲۳۲ اجباري راستنې شویو کورنیو ته د قرغیو ولسوالۍ د سرخکان په کمپ کې غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یو بسته د ژمني لباس او درې تخته کمپلې ورکړل شوې. سربېره پر دې، د ۸ مستحقو کورنیو لپاره په جلا ډول یوه یوه خیمه هم ځانګړې شوې وه.

مرستې ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو هرکلی وکړ او وې ویل چې دغه مرسته د دوی د لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې مهمه ونډه لري او له مرستندویه نهادونو او ادارو یې د دوامدارې همکارۍ غوښتنه وکړه.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ټینګار کوي چې د مرستو او خدمتونو د برابرولو هڅې د همکارو مؤسسو په ګډون به دوام ولري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۲,۲۱۶ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه JCSSO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با حمایت موسسه متذکره، پس از سروی، بتاریخ ۱ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق در قریه‌های مختلف ولسوالی‌های، دره، حصه اول و مرکز ولایت پنجشیر، برای ۲۲۱۶ خانواده مستحق مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۲،۶۴۰ افغانی پرداخت گردید که در مجموع مبلغ پنج میلیون و هشت صد وپنجاه هزار و دو صد و چهل(۵۸۵۰۲۴۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت اړوند د بېلابېلو طبیعي پېښو له امله د ۱۴۴۸ کال د رمضان المبارک ۲ نېټه ۷۹ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۴ لیټره غوړي او ۷ کیلو بوره ووېشل شوه.

ګټه اخیستونکو کورنیو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه خوښي څرګنده کړه او د ورته پروګرامونو د دوام غوښتونکي شوې.



## کشف و خنثی‌سازی مواد منفجرناشده در مرکز ولایت بغلان




ریاست انسجام و هماهنگی تطهیر ماین اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، بر اساس تماس شهروندان از طریق شماره عاجل (۰۷۰۸۶۰۶۰۶۰)، تیم پاسخ سریع ماین‌پاکی مؤسسه MCPA (MCPA-QRT-۰۱) را به‌منظور انجام عملیات ماین‌پاکی به قریه نیازالله نصرت مینه، مربوط مرکز ولایت بغلان (شهر پلخمری)، بتاریخ ۲ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق اعزام نمود.

این تیم در جریان عملیات ماین‌پاکی، موفق به کشف چهار فیر مرمی ۴۰mm و یک فیر مرمی توپ گردیده و آن‌ها را به‌گونه مصؤون و فنی از بین بردند.

همچنان مسئولان مربوطه پس از پایان عملیات، برای باشندگان محل در مورد خطرات ماین‌ها و مواد منفجرناشده آگاهی‌دهی نموده و از آنان خواستند در صورت مشاهده هرگونه اشیای مشکوک، فوراً با نهادهای مسئول تماس گرفته تا اقدامات لازم به‌موقع انجام شود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۳۴ خانواده آسیب‌دیده مساعدت نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد

بر اساس هماهنگی میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و سازمان بین المللی مهاجرت (IOM)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با حمایت این نهاد، برای ۳۴ خانواده آسیب‌دیده در مربوطات مختلف آن ولایت، بتاریخ ۲ رمضان المبارک سال ۱۴۴۸ هـ ق مساعدت‌های نقدی و غیرخوراکی توزیع نمود.




در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۸،۵۰۰ افغانی پول نقد و یک کیت ساخت سرپناه توزیع گردید که در مجموع مبلغ دوصد هشتاد و نه هزار (۲۸۹،۰۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود. همچنان برای ۱۵ خانواده که بیشتر آسیب دیده بودند، علاوه بر کمک‌های فوق، به هر خانواده یک باب خیمه نیز داده شد.

قابل یادآوری است که خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها، از توزیع این مساعدت‌ها ابراز خرسندی نموده و از مسئولان مربوطه قدردانی کردند.

## عامه پیغامونه :

9. موټر په احتیاط  چلوئ چي هدف ته ژر ورسیږئ، څټک تګ مه کوئ چي  د کومي پېښي د رامنځته کیدو له امله دربانديې ناوخته نشي

10. ماینونو او ناچاوده  توکو ته لاس مه وروړئ  که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکي ولیدل د ماین پاکي مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ

11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورني یو اړین اصل دي